عبدلصمد ازهر ۳۱/ ۱۲/ ۲۰۱۵

# نیمه پېړۍ

د خلک دموکراتیک گوند/ د وطن گوند د بنسټ ایښودونکې کنگرې له نېټې نه پوره پنځوس کاله تېر شول. هو، نیمه پېړۍ واووښته خو گوند پنځوس کلن نه شو. هغه خوځند او هڅاند گوند په خپلې ۲۷ کلنۍ کې ناخلفو بچیانو زندۍ کړ.

هغه ښکلی گلالی گوند چې د خواریکښ ولس د ښېگڼو او د نوی راپورته شوی روڼ اند ځوان نسل د غوښتنو او آرمانونو هنداره وه، هم په پیل او هم په پای کې د مشخصو کړیو له خوا د بې لاریتوب او خیانت قربانی شو.

کله چې شاته گورم، د تېر ژوند د تئاتر پر ستېج باندې د گوند د جوړولو هلې ځلې او ځغاستې او بیا د گوند د رغېدو خوښحالی مې سترگو ته ودرېږي. په ښارونو او کلیو کې د ملی شورا د ټولټاکنو تودې مبارزې، د ولسی جرگې له تالار نه د لومړی ځل له پاره د خواریکښو چیغه پورته کول را په زړه شی. له انقلابی او راوېښوونکو محتواوو نه ډک د خلق د جریدې خپرېدل او هغه هیجان چې د پوهنتون زده کړیالو د هغې د وېش په وخت ښکاراوه او وروسته بیا هغه هڅه او شوق چې د پرچم په وېش کې ځرگندېده، ماغزو ته راشی. د لړم د دریمې نېټې خونړۍ پېښه او ورپسې مظاهرې، د زرنگار د پارک مستې مظاهرې او بېباکه انقلابی ویناوې؛ له شبرغان نه د کابل په لوری د تفحصاتو د کاریگرو لاریون؛ د ښځو د دموکراتیک سازمان، د ځوانانو د دیموکراتیک سازمان، د کاریگرو اتحادیو او نورو ټولنیزو جوړښتونو دغړیو سپېځلی غورځنگونه د خیال په پردې کې را ژوندۍ شی.

په بله صحنه کې داوود خان راشی؛ پر مظاهرو، ویناو، خپرولو او پر گوندونو بندیز ولگول شی؛ اساسی قانون لغو او سیاسی فعالیتونه په ټپه ودرېږي. مگر د ا خ د گ د داوودخان د وړاندې کړی مترقی پروگرام د تایید په موخه د ده تر شا درېږی. له بده مرغه پر ځان مین داوود خان لنډه موده وروسته، گوند ته شا کوی او له دولت نه یې شړی.

د گوند او د نوی خوځښت ستر لارښود، میر اکبر خیبر، په مرموزه توگه وژل کېږی او پړه یې پر دولت اچول کېږی. له لومړی میکروریان نه تر خښتی پله جوماته او بیا تر شهدای صالحین پورې د ده د ځنازې په ملگرتیا د گوندیانو او عدالت خوښوونکو ښاریانو نژدې پنځوس زریزه ستره مظاهره، د دولتی واکمنی، ارتجاع او امپریالیزم پر ضد شعارونو سره، د کابل ښار او د رژیم ستنې لړزوی. داوودخان پر گوند یرغل او د هغه د مشرانو په نیولو پیل کوی، چې همدغه کار یې سر خوری.

په نوې صحنه کې د نور محمد ترکی او حفیظ الله امین واکداری چې قاطع واک یکښې د امین دی او د خپلو گوندیانو، روڼ اندو، خواریکښو او نورو وطنوالو پر ضد د ده خونړۍ کارنامې ، د دې سوچه گوند په پاڼو او د هیواد په تاریخ کې یو تور مخ، ثبتوی. د دې نادودو له کبله عام ولس د هغه رژیم پر ضد، کوم چې دوی ته یې د کور، کالی، ډوډۍ هوډ کړی و او د سوکالی او عدالت د منځ ته راوړلو ټټر یې وهلی و، راولاړېږی او له بده مرغه د هغو تور اندو لومو ته لوېږی کوم چې د پاکستان، عربو او اولوېدیځ په مرسته لا د داوود خان له وخته د افغانستان د دولت پر ضد په وسله واله جگړه بوخت و. د امین له خوا د ترکی وژل او ځانته بې رقیبه واکمنی جوړول خلک لا پسې وارخطا کوی.

د شوروی اتحاد د سرو لښکرو یرغل چې په سر کې لنډ مهاله او د امین د نسکورولو په موخه اټکل کېږی، په پیل کې څه ناڅه هیلې راژوندې کوی؛ خو پایښت یې هم په ټولنه کې نارضایتی زیاتوی، هم

پاڅون ته د باندنی یرغل پر ضد د جهاد بڼه ورکوی او هم باندنیو دښمنانو ته د برالا لاسوهنو او «مجاهدینو» ته د لا زیاتو وسلو، پیسو او تربیې پلمه برابروی.

د ببرک کارمل د واکداری په موده کې د ترکی او امین د وخت د ډېرو افراطی فرمانونه لغو کېدل او د خلکو د پخلا کولو په لار کې هلې ځلې په څو دلیلونو برې نه مومی:

- د ګوند پخوانی د لارې کربښې لا شته او د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند انحصاری څانته واکداری لا ساتلې او نورو ګوندونو او سیاسی آزادیو ته د اجازې ورکولو نښې نشته؛
- خلک هومره ځورېدلی دی چې ژر پخلا کېدل یې ستونزمنه چاره ده؛
- په ولایتونو او ولسوالیو کې همغه پخوانی واکدارن چې د خلکو په وینو یې لاسونه ککړ دی، لا هم په واک کې دی او نوی دولت نه دی توانېدلی هغو ته سزا ورکړی او یا یې کم له کمه له پخوانیو دندو نه نویو دندو او نویو ځایونو ته بوځی؛
- د سرو لښکرو او د دولت، په خاصه توګه د اردو په ټولو قدمو کې، د روسانو د فعال شتون دوام، چې هم دښمنان هڅوی او هم په ګوند کې دننه شوک شوکې او نه رضایت منځ ته راوړی.

د تېر یاد په بله پرده کې، د ډاکتر نجیب الله د بدلون نوښتونه راځی: د سرو لښکرو په بېرته ستنېدو هوکړه او عملی کېدل؛ له ملی حاکمیت نه مستقلانه دفاع او په جلال آباد کې د ټولو «مجاهدینو» او پاکستانی ملیشه او منظمو فرقو ګډ یرغل ته تاریخی او خوله ماتوونکی ځواب؛ د ټولنې او د اسلامی مسلطې روحیې په نظر کې نیولو سره، د ګوند د دوهمې کنګرې په هوکړې د وطن ګوند ته د ګوند د نامه اړول او د هغه په تګلارې کې ستر بدلونونه؛ نوی اساسی قانون له پلوراليزم او سیاسی، اقتصادی او فرهنګی آزادیګانو سره، او له نورو ګوندونو او قوتونو سره د واک شریکول؛د ټولټاکنو له لارې د ملی شورا بیا ژوندی کول؛ د ملی مصالحې ستر نوښت او په دې لارې کې تر پایه ګړندی او نه ستړی کېدونکی خوځښت؛ رایادېږی.

د روسانو جفا چې د نجیب الله په بریالی واکداری کې له دښمن سره ګوتې خوږې کوې او د همدوی په لمسون د ګوند او نظامی قوتونو د مشرتابه د ځینو قامی او ژبنی کندې ته غورزارو شویو کړیو جفا او له شا نه ګزار، یو په بل پسې د تاریخ پر پردې تېرېږی.

له همدې سره د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند/ دوطن ګوند د فعال ژوند دوره پای ته رسېږی. دا چې وروسته بیا د افغانستان پر ولس او پر سپېڅلو متعهدو وطنپالو ګوندیانو د«مجاهدینو» او ورپسې د طالبانو په دورو کې څه راځی، د ډاکتر نجیب الله د ویاړن ژوند غمجن خو سرلوړی پای څنګه او د پیښنو د کومو لړیو پیلامه وه، ګوند څومره تیت او پخپلو کې وویشل شو او څنګه ځینو د انسان او خواریکښو وګړو لار پرېښوده او په قامی ژبنی او مذهبی ډنډونو کې کښېوتل، د دې تاریخی پردې نورې برخې دی چې د اوسنی بحث له وسه وتلی دی.

په شا ته کتو سره هغه سپېڅلی زلمیان وینم چې د ملی او ګوندی اصلی اصولی آرمانونو په لارې کې یې ځانونه وقف کړل او په بیباکی او لوړ سر یې خپل سرونه وشیندل، هغه ځواکمن روڼ اند جوړښت ګورم چې د هیواد ګوټ ګوټ ته یې د بدلون او نوی ژوند پیغام ورساوه او د ولس ماغزو ته یې نوې سا ورپو کړه، دوی په رښتیا سره پر خلکو مین و او د بېوزلی لوړې، اقتصادی او فرهنګی وروسته والی پر ضد یې نه ستړې کېدونکې مبارزه کوله؛ **دغه نسل بیخی استثنایی او زما په عقیدې نه تکرارېدونکی نسل و. کلونه او پېړی به واوړی خو دغسې په تقوا، وطنپالی، دسپلین، ځان شیندنې او کلک ملی تعهد سمباله مجموعه به بیا ونه زېږی.**

د وطن او خلکو د لارې دشهیدانو اروا دې ښاده او د دوی له ویاړه ډک یاد دې تلپاتې وی!

يادونه: د ا خ د ګ د پنځه څلوېښتمې کليزې په نمانځلو کې د ګوند تاريخ ته لنډه کتنه، په لاندنې پته کې موندلی شئ:

http://www.esalat.org/images/abdul_samad_azhar_45_years_dppa.htm